ليکوال : حبيب الله غمخور ۲۰۰۸/۰۲/۲۰م

# داپرېکړه دکوم قانون له مخې ؟

## افغانان ملي دنده لري چې دايران دفرهنگی يرغل په مقابل کې ودرېږي

دفبروري دمياشتي پر ۱۹ نېټه دافغانستان دپار لمان په دولسي جرگه کې دفرهنگي اوديني، امورو کميسيون. يوه عجيبه غونډي پر ېکړه وکړ ه، هغه داچي پسله دېنه به په ټول افغانستان کې ددولتي ادارو نومونه پر لوحو په دواړو ژبو(پښتو اودری) ليکل کېږي .
خو دابې سپينه نه نکړه چې ولي به په دواړو ژبو ديوی دولتی داری نوم ليکل کېږي ؟
ايا کېداي سي پدې ډول دژبو دانډول او تفوق مسله حل شي؟ اوکه په حقيقت کې داکا رېخپله دژبوتر منځ اختلاف ته لمن وهل دي؟ دنړی په يوه کنج کې څوک داسي يو هيوادنشی راښودلاي چې هلته ئې دولتي او ياغير دولتي لوحې په څوژبو ليکل شوی وي .
دمعمول سره سم په ټوله اروپا کې سره لدې چې مختلف قومونه او ژبو ويونکی اوسيږي، ټولي لوحې دهغه هيواد داکثريت په ژبه دي، يعني په جرمني کې په المانی، په سويډن کې په سويډني، ناروی کې نارويجي، ډنمارک کښې ډنمارکی، پولنډ کې پولنډي ، روسيه کې روسی ، ايران کې ايرانی (فارسي ) او داسي ټول هيودونه. جالبه خوداده چې محقق صاحب اوپلويانو ئې ولې پر عادي مسايلو دواړي پېښي په يوه موزه کې اچولي دی ؟
په ټول افغانستان هغو ته چې دخپل هيوادسره بيگانه ندی په هرقوم اوژبه چې خبري کوي وايي دلته دژبو تر منځ جگړه نشته اونه هم يو دسالم عقل خاوند افغان دژبوتر منځ اختلاف ته پکې وهی. خبر لمر غونډي روښانه داده چې ايرانی ترمينالوژی په افغانستان کې دافغانانو لپاره دمنلو وړنده. افغانان ملي دنده لری چې دايران دفرهنگی يرغل په مقابل کې ودرېږي. داچې دغه مقاومت ته بوشمير پردی پلوه او دايرانی اخوندانو لاس پوڅی قومی او ژبنی رنگ ورکوی داپه دوي پوري اړه لري ، پښتانه لدېنه بايد ډار ونلري .
راشی چې ددې مسلې دحل اساسی لاري ولټوو. که پر اصطلاحاتو دسياسي سوداگرئ مسله مطرح نه وي ښه داده چې دملي يو والي دساتلو په منظور په افغانستان کې دژبوتر منځ داړيکو او انډول دمسلي دحل هغې برخی ته راوگرځوکوم چې بوشميرځېنې وبرېږی. يعني زموږ په هيوادکې دژبو تر منځ دملي انډول مسله بايد يوه ورځ حل شي . دابايد سپينه شی چې په دولت کې کومه ژبه حاکمه وی، يعني کومه ژبه تر نورو ډيره دولتی بنه ولري. ددې مسلې دحل لپاره کېداشي له نړيوالو تجاربيو څخه په ډير ساده بڼه استفاده وشی . داخبره چې ډير خلک په دري خبري کوی ددې لامل نشی گرځېداي چې دپښتو کمبله دې ټوله شی . پښتانه په هيڅ ډول دې ته نه دی تيار چې خپله مورنی ژبه دلاسه ورکړی، داېي مسلم حق دی څکه يوملت هغه وخت ژوندی دی چې ژبه ئې ژوندی وي. که پدې هوښياری سره چې ټول په دری ژبه پوهېږی پدې ملک کښې دپښتنو او پښتوژبې فاتحه اخيستل کيږي فکرکوم دابه يونه رښتياشوئ خوب وي. پښتنو څکه دری زده کړې چې يو خوپه حقيقت کې ژبنی تعصب نلري، اوبل پدې پوهيږي چې واړه قومونه بايد په خپل بغل کې وساتي، اوتر دې لاهم که ئې ورزياته کړم پښتانه دری ژبه دخپل هيواد ديوشمير وگړو مورنی ژبه بولی اوداژبه په همدې افغانستان کې پيدا او لويه شوې ده . پښتانه لکه يو شمير تنگ نظره او له ملي تعصب نه ډک کسان افغانستان پر جنوب او شمال نه وېشي پدغه جغرافيايي موقعيت کې پرته خاوره خپل وطن بولی ، او هيڅ يوپېخوانی تاريخي افتخار يا وياړنه پردو ته نه بخښی . داپدې معنا چې دري ژبه زموږ دولس ژبه ده اوټول تاريخ ئې په موږ پوري اړه لري .
داخبره چې گويا پښتانه ددری سره دښمنی کوی کاملاً درواغ اوله حقيقت نه ليري ايرانی توطيه ده. او له بلې خوا دنړی په تر ۱۹۲زياتو هيوادو کې دنفوسوداکثريت ژبه رسمی دلوړ ملي اوبين المللي اعتبارلرونکی ده .
بلې هو ۱ فکر کوم اوس آهسته آهسته ددې وخت رارسېدلی دی چې ايران پلوته داپه گوته شي چې پر خپل ځاې کښېنی ، او دايرانی فرهنگی يرغل په مقابل کې دملي مقاومت سره يوځاي ددې غوڅ اکثريت ولس دمورنی ژبې حق تر لاسه شی .
نور په پښتو ژبه ملنډی وهل او په افغانستان کې دايرانی فرهنگ دپراختياپر خلاف بايدملي قيام اومقاومت ترسره شي. ددله ايزو رسنيو ددورستيوخپرو شويو معلوماتواوليکنو له مخې داسي څرگندېږي چې په افغانستان کې دژبو مسله حاد ه شوې ده .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د اساسي قانون په ۱۶ ماده کي دژبو درسمي کېدو په هکله مسله په ګونګه بڼه لیکل شوي ده دامسله روښانه نده چي کومه ژبه تر بلي اولویت لري .که په قانون کي دي مسلي ته جدي او اساسي پاملرنه شوي واي اوس به موږ له دي ستونزوسره نه مخامخ کېداي .
بلي ! په یوه هیوادکي کېداي شي ابتدائیه تعلیمات په مورنی ژبه وشی اویاهر څوک حق لري، په خپله مورنی ژبه خبري وکړی ،په مختلفو ژبو کېداي شي کتابونه ولیکل شی واره تصویري اوچاپي سیمه ایزنشرات وسی ،مګر په دولت کي دامسله باید حل وی چي په کومه ژبه دولتي کارونه تر سه شی ،اوهمدا ډول په کومه ژبه له متوسطو تعلیماتو نیولي تر عالي اومسلکی تحصیلات تر سره شی.
زموږ په هیوادکي له ډیر پخوا داسي راغلي چي پښتو اودری دواړي دولتي ،تعلیمی ،تحصیلی اومطبوعاتي ژبي دی . دغه کشماکش چي له بهره دنورومخولپاره راوړل شوی اوپیدا شوی دی ،پخوا ولی نه وو؟ ولی ددې خبري په مقابل کي حساسیتونه را پاڅیږي کله چي پښتانه خپل حق غواړی ،پښتوته حق ورکول اویادهغي دپیاوړتیالپاره دپښتنو لخواتلاښ په هیڅ صورت دبلي ژبي دکمزوری لامل نشی کېداي .
محقیق صاحب ! داویش مو له چانه زده کړ؟
داپر ځاي خبره ده چي وایي (( ترکاني دبیزوکارنه دی)) ښتیا هم ستاسو اوستاسو پلویانو لپاره دژبي دمسلئ حل ګران کاردی ،ځکه تاسو نه ادبیان اونه هم حقوق دانان یاست ،جګړمار یاست اوپه جګړه ښتیاهم تر هرچا ممکن ښه پوه شی ،حیف چي ښاغلی کرزی صاحب دیوې فرقي قوماندانی نده درکړي ،کاشکی داکار ئي کړی واي ،ښه قوماندان به واي ،داچي فرقه به موبیاپر چاخرڅولاي دابله خبره ده .
محقیق صاحب ! که دادرسره ومنوچي لوحي به په دواړو ژبو لیکل کیږي، په هغه صورت کي به نوزموږ وړاندیز داسي وی : تر هغو چي داشمیره معلومیږي چي دکومی ژبي خاوندان ډیردی ،محقیق صاحب خاوندان مي وویل نه ویونکی ،ددې لپاره چي ښه پرې پوه شي یعنی چي مورنی ژ به ئي وی ،پدې هیواد کي ټول کارونه باید په مساویانه توګه په دواړو ژبوترسره شی .
په ټول افغانستان کي دامساوات باید عملي شي .دا تر ((۳۵۰ )) زیات چاپی نشرات ،راډیوګانی اوټلویز یونونه ،ترجمانان اوټول هغه څه چي دژبي په استعمال پوري اړه لري هم باید په مساویانه ډول د دواړو ژبو په وسیله تر سره شی.
اود اخبره دا معنالري چي :
۱ / دولت بایدمکلف وګڼل شی چي سرله همدا ستاسو دفیصلي نه په ټول افغانستان کي دافغان ماشومانو اوځوانانو لپاره په دوژبودتعلیم اوتحصیل امکانات ژر تر ژره برابرکړی .
۲ / ټول مطبوعات (دولتی اوشخصی )مکلفیت لري چي په خپلو ټولونشراتوکي دژبوداستعمال دقیق اوجدی انډول په نظر کي ونسي ،له دي امرنه سرغړونکي خپرونه سمدلاسه بایدمصادره شی،تر څودنورولپاره عبرت وګرځی .
داخبره چي آزادي ده شخصی نشرات حق لري هغه څه وکړي چي زړه ئي غواړي باید تحلیل اوبرسی شي ،بلي هر څه لیکلاي شي ،ویلاي شی،مګر ملي ګټوته دتاوان رسولوحق څوک نلري ،دژبو مسله دملي ارزښت اوګټولویه برخه ده له همدی امله ټول ښله استثنا هغي ته په درناوی مکلف دي .
۳ / په ټولو دولتي اوغیري دولتی ادادرو کي اسناد (مکتوبونه اونورکاغذونه ) په دواړو ژبو د استفادي وړوی،هغه چاته بایدجزاورکړه شی چي وایي زه پدې ژبه نه پوهیږم .
۴ / دافغانستان ټول دولتی مامورین اوپه بهرکي دیپلوماتان دپارلمان وکیلان اوسناتوران مکلفیت ولری چي په پښتو اودری ژبو روانی خبري ،لیکل اولوستل وکړاشی .
دغه ډول پروګرام به ټول درسره ومني . مګر که تاسوپه زیات مهارت اویوشمیر رټل شووکسانوپه وسیله دپښتنو ژبه ورکوی اوټول هڅوی چي په دري خبري وکړی اوهغه هم په ایرانی فارسی داخبره څوک درسره نه مني ،دا افغانستان دی ،ایرانستان نه دی .
موږ همدا اوس ګورو اواحساسوئي چي ایراني اخوندان زموږ دهیوادپر کورني اوبهرنی مډیا اودډله ایزي خبروني پر رسنیو باندي خپته اچولي اودخپلو نوکرانو په مرسته ایرانی فارسی رواجوی دغي موخي ته درسبډولپاره ایراني اخوندانوپه افغانستان کي دخپلو امکاناتو څخه په استفادې سره وکولاي شول په ټولومطبوعاتي اونشراتي موسسوکي په ایران کي روزل شوی اویا ایران پلوه کسان په کار وګماري .
که تاسودانترنت هغو سایټو ته چي په فارسی نشرات کوی سر وښکاره کړی له ورایه معلومیږي چي پدې ورستیوکي دا ښاغلی چي دوطن پرستی اوافغانیت ډبره پر ټټر ټکوی په څومره مهارت دخپل ایراني بادارد خوشحالی اوخدمت لپاره ددري ژبي دمروجه لغاتونوپرځاي چي هر عادي افغان پرې پوهیږی ایرانی لغاتونه استعمالوی .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

زه اوس نه غواړم دهغو نمونې راواخلم ،ځکه له یوه سره داپاڼې دایرانی فرهنگ اوایرانی فارسی په چوپړ کې دي . البته ځودګوتوپه شمیر درې پاڼې شته چې خپل ملي رسالت ئې ساتلی دی . همدا ډول په افغانستان کې تلویزیونو،رادیوګانو اوچاپي طبوعات لخوادشخصي ملکیتو ترنامه لاندې دافغانی دری سره ځومره جفا کیږي ؟

محقیق صاحب ! که دایران په چوپړ کې نه یاست بیانو ولی ملي غرور تر پښو لاندې کوی ؟په پایز ،مرداد خرداد ،پزشک ،اسفند اوبهمن اوبې شمیره ایراني اصطلاحاتو چې دا بې وطنه ئې په دري ژبه کې پکار وړی ،همدا ستا هزاره ورونه چې ایران ته نه وی تللی نه پرې پوهیږي . اوله نیکه مرغه هغه عوام خلک چې ایران ته تللی اوهلته ئې څه موده تیره کړې ده دایرانی چارواکودنوم له اورېدوسره حساسیت لري ژبه خوئې پر ځاي پرېږده . ځکه هم ایرانی اخوندان مجبور شول معین کسان وروزی اودافغانستان سره دفرهنگی مرستوتر نامه لاندی خپل تور اوکرغېړن لاسونه زموږ خاوری ته راداخل کړی .

هغه لغاتونه چې له پښتو ژبې نه په دری ژبه کې منل شوی دي دهغوي پر ځاي په ایران کې مروجه لغاتونو استعمال پخپله ملي نفاق ته لمن وهل اودملي تر مینالوژی نه سر ه دښمنی ده .

ښاغلی محقیق صاحب ! تاسو پخپله دې نا عاقبت اندیشه پرېکړه ممکن پښتانه دې ته وهڅوی چې پسله دېنه یو پښتون هم په بله ژبه خبرې ونکړي . تاسوکورنۍ ،کلي اوښارونه سره ویشل غواړی،موږ افغانان یوملت یو اودپردوپرستو لپاره باید په افغانستان اودافغانانوپه منځ کې ځاي نور تنګ شی .

دخوست دغیرتی خلکو دقومی جرګې دپرېکړې پدې مادو به ئې پاي ته ورسوم :

۱ : موږ په هېوادکې ملي یووالي ته اړتیالرواوهېچاته به ددې اجازه ورنکړوچې دپردیودخوشحالولولپاره زموږملي یووالي اوشتمنیوته تاوان رسوي .

۲: موږدسیمې له هېوادونوسره دکلتوري اړیکیوپلوي کوو، خودکلتوري یرغلونوپروړاندې یې هرډول مبارزې ته تیاریو .

پاي



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de